**دوکتور روستار تره کی**

فرانسه، ۲۲ جولای ۲۰۰۹

# لیلی دښته

## په سیمه کی بی ساری جنګی جنایت !

### د جنګی اسیرانو حقوق :

په لیلی دښته کی د جنایت د سترو الی د پوهاوی په مقصد ، دلته لازمه ګڼو چی د سریزی په توګه دجنګی اسیرانو د حقوقو په اړه دنړیوال قوانینو په رڼا کی څو یادونی وکړو.

د ژنیو دڅلورو کانوانسیونونو ( ۱۹۲۵، ۱۹۲۹، ۱۹٤۹، ۱۹۹۳ م کال ) ددویم پروتوکول له مخی باید له اسیرانو سره "انسانی" چلند وشی . دانسانی چلند مانا دا ده چی :

۱- داسیرانو بشپړ لیست نړیوال سره صلیب ته وړاندی شی.
۲- نړیوال سور صلیب وکړای شی چی کله ناکله له اسیرانو سره لیدنه کتنه وکړی او احوال یی کورنیو ته ورسوی .
۳- داسیرانو فزیکی روغتیا او کرامت ته درناوی وشی .
٤- له اسیرانو نه غچ وانه خیستل شی.
٥- اسیرانو شکنجه او اعدام نه شی .
٦- داسیرانو پربدن باندی رنځوونکی بیولوژیکی آزموینی ونه شی.
۷- اسیران دجبهی په لومړنیو لیکو کی بیګار ته ونه ګومارل شی.
۸- دوی ته د دفاع او محاکمی حق ورکړل شی.
۹- اسیران دجګړی له ساحی څخه په یوه لری سیمه کی استوګنه وکړی.
۱- پراسیرانو باندی دله ییزه سزا تطبیق نه شی.
۲- ټپی او رنځور اسیران باید د روغتیا پالنی څخه کټه ترلاسه کړی .
۳- ترشخړو وروسته ، باید اسیران په بشپړ مصئونیت خپلو سیمو یا هیوادونو ته ولیږل شی.

جنګی اسیران دانسانی چلند نه بی برخی کول جنګی جنایت او د اشد مجازات وړ ګڼل کیږی.

### ملګرو ملتونو امنیت پر عدالت باندی مقدم وګڼل :

د دله ییزو قبرونو شتوالي چي په کي جنګي اسیران ښخ شوي دي د بشر دحقوقو له عمومي اصولو څخه د سر غړوني بیلګي ګڼلي شو .

په ۱۹۹۹ م کال کي د ( م .م ) عمومي منشي اعلام وکړ چي د افغانستان په دریو لویو ښارونو کي ۱۲ ځارونکي ځاي پر ځاي کوي . د بشر له حقوقو د کمسیون څخه « د اروپایي اتحادیي دکیڼ اړخ رئیس » سر فرانسیس ورتز » د جون په میاشت کي دخپلي اتحادیي په استازیتوب دلیلي دښتي د وروستي پیښې د پلټني په

اړه نړیوال سره صلیب او ( م.م ) ته غوښتنه لیکونه استولي وو . د جولاي پر ۸ مه « ګوردان بت» د نړیوال سره صلیب ویاند ځواب ورکړ چي : موږ په هیڅ یوه پلټنه کي برخه نه شو اخیستي . زموږ لومړني دنده د جګړي قربانیانو ، ژوندي و ګړو او په جګړو کي د ورك شویو کسانو پاتي کورنیو ته مرستي رسول دي. دا ویره ښته چي په یوه پلټنه کي د نړیوال سره صلیب ګډون د هغه پر فعالیتونو باندي چي له خلکو سره په آزاده توګه د تماس پر بنسټ یي جوړوي منفي اغیزه واچوي .
په هر حال ! ( م . م ) به د ناپیلیتوب او محرمیت له اصولو سره سم نړیوال سره صلیب ته اجازه ور نه کړ چه د پیښني په اړه د یوي محکمي په وړاندي شهادت ادا کړي . میرمن « ماري روبنس » د ( م . م ) دبشري حقوقو د عالي کمشنري ویانده ( فرانسیس ورتز) ته وویل : د بشریت ضد جنایت پر وړاندي باید هیڅ ډول زغم موجود نه وي . د قضیي د پاره اصلي مسئوولین په پیښنه کي اخته دولتونه دي . موږ په دي ډاډه یو چي د افغانستان دولت د تیرو جنایاتو د پلټني په هکله صادق دي . د امریکا دولت به ورته دریځ ولري .
د « ماري روبنس » خبره د انتقالی حکومت په اړوند له واقعیتونو سره سم نه وو . د انتقالي حکومت له خوا د پیښني د پلټني په اړه هیڅ یو اغیزناك ګام پورته نشو . او تر هغه وخته پوري چي په جنګي جنایاتو تورن توپکیان او جنګسالاران په حکومت کي واکمن وي د کابل حکومت له خوا د پیښني د پلټني په اړه هیله مندي غیر واقعبینانه ښکاري .
( م ، م ) د افغانستان د قضیی په اړه تر زیاتی اندازی پوری د امریکا د سیاست تر اغیز لاندی وو او دی . ( م ، م ) لکه امریکا غوندی د مختلفو متخاصمو افغانی ډلو ترمنځ بیطرفانه سیاست نه درلود . ( م ، م ) اړیکی له هغو کسانو سره چه په جنګی جنایاتو تورن وو او په انتقالی حکومت کی واك درلود دوستانه او دمتقابل باور پربنسټ ولاړ وو .
په کابل کی د ( م ، م ) پخوانی استازی ، لخدر ابراهیمی ویلی وو : « د افغانستان شرایط دا ایجابوی چی باید دژوندیو خلکو پرابلمونه پر مړو باندی او امنیت پر عدالت باندی مقدم وګڼل شی » .
دغه خبره په څرګنده توګه جنګی جنایتکارا نو ته مصئونیت ورپه برخه کړ .
لخدر ابراهیمی دغه واقعیت د پامه غورځولی وو چه اصلاً امنیت او عدالت یو له بل سره نه بیلیدونکی منطقی اړیکی لری . موږ امنیت له عدالت پرته او عدالت له امنیت پرته نه شو تأمینولی :
په افغانستان کی د جنایت د پیښنی نه وروسته تر اوسه پوری سوله او امنیت د هغو جنګی جنایتکارانو له خوا تر ګواښ لاندی دی چی دعدالت څخه تښتیدلی دی. په دی اړه لاندی مثال ته پاملرنه وکړی :
په همدغی لیلی دښته کی د وروستی فاجعی ( ۲۰۰۱ م ) نه مخکی په ۱۹۹۷ م کال د دسمبر په ۳۰ له ۲۰۰۰ انسانانو څخه زیات قتل عام شول . نړیوال ټولنه او ( م ، م ) په دغه برخه کی نه یوازی بی تفاوته پاتی شول ، بلکی د تورنو کسانو څخه لږ تر لږه یو تن یی ( خلیلی ) د راتلونکی حکومتونو د غړیتوب په ورکولو کی مکافات هم ورپه برخه کړل . که په همدغه وخت کی دغه ستر جنایت تر قضایی تعقیب لاندی نیول شوی وای ، د لیلی دښتی ناورین به تکرار شوی نه وای.
له پورتنی مثال څخه څرګندیږی چی سوله او امنیت باید له عدالت سره په موازی توګه پرمخ لاړ شی . دغه پروسه په روندا او کوسوو کی سرته رسول شوی ده . هیڅ دلیل وجود نه لری چی افغانستان ورڅخه بی برخی پاتی شی .
د یادونی وړ بولو چه د ۲۰۰۱ م کال ناورین د رامنځته کیدونه لس ورځی وروسته د امنیت شورآ ۱۳۸۶ نمبر پریکړه صادر شو. د نوموړی پریکړی په بنسټ نړیوال نظامی ائتلاف په افغانستان باندی یرغل وکړ . بناءً (م ، م) د نړیوال ائتلاف په څنګ کی د جنګی جنایت په اړوند مسئولیت لری .

## د دله ییزو قبرونو ساتنه :

هغه ډله ییزو قبرونو چي د افغانانو د مقاومت په وخت کي د جګړی ه ترڅ کی رامنځ شوي دي ، یا په کی جنګي اسیران ښخ شوي دي ، د جنګي جنایت کارانو د جرم یوه مهمه بیلګه ګڼل کیږي . دله ییزو قبرونو د ملي ، اسلامی مقاومت او د هیواد د اصلي بچیانو د اتل والي یوه لویه نمونه ده . دغو هدیرو په مذهبي لحاظ د زیارت ځاي او په سیاسي لحاظ د راتلونکي نسلونو لپاره د ملي نوامیسو د ساتني په خاطر د امتثال یو مرجع به وي چه باید تر خاورو لاندی لادرکی نشی .
په هیواد کي د شوروي تر یرغل وروسته جنګی دلو تپلو په کرات او مرات په ډله ییزي وژني لاس پوري کړي دي . د کمونیسانو په دوره کي ، د مجاهدینو په وخت کي ، د طالبانو په واکمني کي او د طالبانو تر سقوط و روسته د جنګی جنایت بیلګی موجودی دی .
الف : شوروي دولت سره له دي چي د نړیوالو قوانینو لاسلیك کوونکي وو ، د افغاني جنګي اسیرانو په بي رحمانه وژلو تورن دي . په دغه مرحله کي د ډله ییزو قبرونو نښي نښاني د شوروي د نظامي واحدونو د نظامي هډي په شاوخواکي یا د زندانونو په نژدي سیموکي موجودي وي . بهتره به دا وي چي په یوه مناسب وخت کي د ډله ییزو قبرونو نقشي له روسانو څخه تر لاسه شي .

د ۱۹۹٦ م کال د مارچ ۱۸ نیټه یوه ډله ییزه هدیره چې په کې ۸۰۰ مړي ښخ کړل شوي وو د کمونیستي نظام د جنایت د سند په توګه په ننګرهار ولایت کې د ۸۱ غونډ په نږدیوالي کې کشف شوه .
ب: د مجاهدینو د حکومت په وخت کې چې افغانستان په کورني جګړه اخته شو په زرګونو انسانان ووژل شول ، په دغه وخت کې جنګي اسیرانو د وژلو احتمال د نورو سیمو په پرتله د کابل په جګړو ( افشار، دشت برچي ) کې زیات لیدل کیږي .
په ۱۹۹۵ م کال کې د ( م.م ) د عمومي اسامبلي د ۲۰۷ مې ګڼي پریکړه لیك له مخې د ( م.م) یو ځانګړي کمیسیون باید په افغانستان کې د بشر د حقوقو څخه سرغړونیو و څیړي او په دي باب دي مستند راپورونه برابر او د ( م.م ) د عمومي منشي له لاري دي د امنیت شورا ته وړاندي کړي . خو قضیې عملي بڼه غوره نه کړه.
ج: د طالبانو په واکمنی په ۱۹۹۷ م کال کې د دسمبر پر ۳۰ مه نیټه اټکل ۳۰۰۰ اسیر طالبان د سیالو ډلو له خوا ووژل شول او په لیلي دښته کې په یوه ډله ییز قبر کې خاوروته وسپارل شول . د دغه بي ساري جنایت تورونه پر پهلوان ملك او خلیلي ( دواړه دشمال دائتلاف غړي) لګول کیږي . ( م . م ) دقضیې د پلټنې په مقصد یو کمیسیون و ټاکه چې مشري یې د « شونګ یونګ » پر غاړه وه . تر ١٤ ورځو وروسته چې پلټنې دوام و مومند دوسیه د نامعلومو دلایلو له کبله تر نن پوري معلق پاتي شوه . د طالبانو تر سقوط وروسته بیا اټکل ۳۵۰۰ نفره اسیر طالبان د شمال او نړیوال ائتلاف د ځواکونو له خوا ووژل شول ، چې په همدغې لیلي دښته کې په ډله ییزو قبرونو کې ښخ شول.
په افغانستان کې د جنګي جنایتکارانو راتلونکي محاکمه موږ دي ته اړ کوي چې د ډله ییزو قبرونو په اړه لومړي په ټول ملي قلمرو کې پلټنې تر سره کړو او وروسته د هغوی دساتنې لپاره ترتیبات ونیسو . زما په اند دغه کار باید د یوې ځانګړي اداري په واسطه چې د حکومت په تشکیلاتو کې ځای پر ځای کیږي تر سره شي .
د ډله ییزو قبرونو په اړه پلټنې چې په واقعیت کې د جنګي جنایت کارانو په اړه د اسناد او مدارکو د راټولولو مانالري ، دا ایجابوي چې حکومت باید ملي بڼه ولري او د ټوپك تر واکمنی لاندي نه وي.
په هر حال ! دغه اداره چې د یوې نظامنامي پر بنسټ د نړیوال سره صلیب په همکاري په فعالیت پیل کوي باید د کار یوه اجنډا ولري چې لاند یني بنسټیز مطالب په کې شامليږي :
١- په ټول افغانستان کې د ډله ییزو قبرونو د جغرافیایي موقعیت د ژوندیو او عیني شاهدانو په مرسته چې هرو مرو تر اوسه پوري شته دي راجستر کول .
۲- د هري هدیري لپاره یوه ځانګړي دوسیه جوړول . په دغي دوسیي کې د امکاناتو په حدودو کې باید د پیښي نیټه، د مړیو شمیر ، د شهیدانو هویت او د هغو د سیاسي علایقو څرنګوالي څرګنده شي .
۳- د ټولو ډله ییزو قبرونو فلمونو او ویدویوي کاسټونه اخیستل ، تر څوچې که تورن کسان قبرونه تاواني کوي او یایي له منځه وړي ، اسناد یې موجود وي .
٤- د بین المللي سره صلیب په مرسته د ډله ییزو قبرونو د ساتنې په اړه امنیتي جدي ترتیبات نیول .
وروسته له دي چې د "ایساف" او ناتو ځواکونه په افغانستان کې ځای پر ځای شول ، افغانستان پیښي ته د نړیوالو سیاسي معیارونو له زوایي څخه کتل کیږي . د همدغه بهیر له مخې په هیواد کې جنګي جنایاتو ته ځانګړي پاملرنه اړول شوي ده . د اروپایي اتحادیې کیڼ اړخی چې د افغانستان په اړه په دغه برخه کې مخکښ ښکاري او مشر یې « فرانسیس ورتز» وو ، د ۲۰۰۲ م کال د جون ۱۲ د اروپایي پارلمان په استازیتوب له نړیوال سره صلیب او ( م ، م ) څخه غوښتنه وکړه چې دلیلي دښتې ډله ییزو قبرونو په اړه پلټنې پیل او د هغوی د ساتنې کلك تدابیر ونیسي . د ۲۰۰۲ م کال په مې میاشت کې د بشر د حقوقو یوه امریکایي او ، ان ، جي ( پي ، ایچ ، ار) د مزار شریف د ډله ییزو قبرونو په اړه یو مقدماتي راپور خپور او په هغه کې یې له نړیوالي ټولنې او له افغاني مقاماتو څخه د هغو سیمو د ساتنې غوښتنه وکړه چې ډیره جنایتونه په کې واقع شوي دي . "جان افمان " چې نوموړي راپور یې برابر کړي دي وایي : موږ کرزي او « دونالد رمز فیلډ » ( د امریکا د فاع وزیر) ته لیکونه استولي وو چې په کې د ډله ییزو قبرونو دساتنې غوښتنه شوي وه . تر اوسه هیڅ یوه پایله تر لاسه نه شوه . انګریزي و اکمنانو هم زمونږ غوښتنې ته ځواب را نکړ . یوازی ( م ، م ) موږ ته داد ورکړ چې ذیعلاقه سیمي په منظمه توګه تر هغه وخته پوري تر نظارت لاندي نیول شوي دي چې دعدالت لومړني پروسه ( جنایي تحقیق د حقیقیت پیدا کوونکي کمیسیون یا د نوموړیو دواړو پروسیجرونو مخلوط ) رامنځ ته شي .
دغي پروسي په ۲۰۰۲ کال داکتوبر پر ۹ مه نیټه تر یوی اندازی پوری عملي بڼه غوره کړه : ( م ، م ) تصمیم ونیو چې په هیواد کې د ډ له ییزو قبرونو د شتوالي د پلټنې په مقصد یو پلاوي د میرمن « اسما جهانګیر» په مشري افغانستان ته واستوي.
په ۲۰۰۷ م کال کی په لیلي دښته کې د ډله ییزو قبرونو د قصدي تاواني کیدو خبره راپورته شوه . د ( پي ، ایچ ،آر ) یوه پلاوي په بیړه سیمي ته لاړ او تر تحقیق وروسته یې اعلام وکړ چې پیښه د طبیعي عواملو ( باد ، باران ...) له کبله رامخ ته شوي ده ؟ ؟ ؟

## په ليلی دښته کی !

د امريکا مشهوری مجلی " نيوزويک " د ثقه راپور له مخی د۲۰۰۱ م کال د نومبر له ۲۹ نه د دسمبر تر لومړی پوری اټکل ۳۵۰۰ نفره اسير شوی طالبان د دوستم دقواوو په واسطه ووژل شول او په ليلی دښته کی په ډله ايزه توګه تر خاورو لاندی کړی شول .

پيښه په مرکزی آسيا کی د تورکانو په واسطه د ۱،۲ مليون ارمنيانو د عام وژنی نه ( اپريل ۱۹۱۵ م ) وروسته بيساری ګڼل کيږی .

دغه ستر جنګی جنايت ددی لپاره د افغانستان د ننه او د باندی د پاملرنی وړ وګرځيد چه د افغانيت ، اسلاميت ، بشريت او د نړيوالو حقوقو پر خلاف ، اسير شوی طالبانو وروسته له دی چه د يو تړون له مخی سيالو ځواکونو ته ځانونه تسليم کړل ووژل شول .

اما د پيښی په وړاندی د بهرنيانو پاملرنه بل لامل لری : په ليلي دښته کي د ډله ييزو قبرونو کشف په بي ساري توګه د بشر د حقونو د نړيوالو سازمانونو پاملرنه ځان ته د دي په خاطر راواړوله چي په پيښه کي د يوه بهرني هيواد مسئوليت مطرح وو : د امريکايی ځواکونو چال چلند د نړيوالی بشری تولنی له خوآ ، د نړيوال قوانينو د سرغړونی په اړوند تشويش رامنځته کړی وو . که نه په افغانستان کي په تيرو شلو کالو کي د هغه په شان په زرګونو جنايات شوي دي ، چي جنايتکاران نه يوازي دا چي مجازات شوي نه دي بلکي مکافات هم ور په برخه شوي دي.

په ليلی دښته کی د نيوزويک په قول د غالب او مغلوب د تړون دانعقاد په وخت د امريکايی ځواکونو ( Special Forces) ۱۲ نفرو حضور دلود.

د " لوماند ديپلوماتيک " نشريي په قول چه په فرانسوی ژبه خپريږی ( د ۲۰۰۲ م کال دسپتمبر په ګڼه ) يو قوماندان ( په مضمون کی د قوماندان او نورو شاهدانو نومونه د امنيتی دلايلو له کبله محفوظ پاته کيږی ) چه دطالبانو او مليشی ترمنځ يی منځګړيتوب کاوه وايی : د طالبانو استازی ملافضل او ملا نوری شمال اتحاد ته وړانديز وکړ چه طالبان حاضر دی خپلی وسلی ملګرو ملتونو يا نړيوالو ځواکونو ته تسليم کړی ، په دی شرط چه دوی ته مناسب مصئونيتی تضمينات برابر شی . دوستم ، عطا محمد ، محقق ، امريکايان او انګريزان هلته حاضر وو . بالاخره تصميم ونيول شو چه دکندوز د مقاومت اسيران وروسته له دی چه بی وسلی کيږی ، خپلو سيمو ته واستول شی . دالقاعدی غړی او نور بهرنيان دی ملګرو ملتونو ته وسپارل شی . طالبانو دهمدغه موافقی له مخی ځانونه تسليم کړل.

يو بل شاهد څرګندوی : « ما په « قلعه زينی » کی اسير شوی طالبان يو يو شميرل . دوی ۸۰۰۰ نفروو . په هغوی کی ګڼ شمير د کندوز پښتانه هم شامل وو چه له جګړی سره يی هيڅ تړاو نه درلود. په دغه ترڅ کی ځينی اسيران وتښتيدل ، ځينی د پيسو په بدل کی آزاد شول او يو شمير بهرنيان خپلو هيوادونو امنيتی مقاماتو ته وسپارل شول . په مجموع کی ۵۰۰۰ نفر غايب وو . يوازی ۳۰۱۵ نفره پاتی شول چه د ۲۷ کانتينرو په واسطه شبرغان محبس ته واستول شول . په لاره کی په کانتينرونو باندی دمحافظينو له خوا د ډزو له کبله اټکل ټول اسيران ووژل شول چه بيايی جسدونه په ليلی دښته کی په ډله ايزو قبرونو ښخ کړل شول » .

د وخت د انتقالی حکومت رئيس په تشريفاتی توګه د فاجعی په اوريدو سره خپله خواښينی ښکاره او ژمنه يی وکړه چه د پيښی دتحقيق لپاره به يو پلاوی وټاکی . اما دقضيی د پلټنی په اړه هيڅ اغيزناک ګام پورته نشو . ددغه منفی دريځ دليل دا وو چه په انتقالی حکومت کی تيوپکسالاران او بهرنی ملاتړ کونکی اصلی واکمنان وو . د دوی قدرت دلويی جرګی له لاری مشروعيت موندلی وو . دواړه په جنګی جناياتو او د هغی له جملی نه د ليلی دښتی په ډله ا يزی وژنی تورن وو . دوی وتوانيد چه د ډله ايزو قبرونو په اړه دهر ډول تحقيق مخه ونيسی . د همدغه منطق له مخی دنظار شوراٌ د دفاع وزير مارشال ( ! ) فهيم له ژورناليستانو سره د يوی مرکی په ترڅ کی اصلاً په ليلی دښته کی د ډله يزو قبرونو له ښته والی څخه منکر شو . ( لوماند د اګست ۲۲،۲۰۰۲ ) . بناً په هغه وخت کی موضوع معلق پاتی شو .

## د امريکا د حکومت مسؤليت :

د امريکا ددفاع وزير"دونالد رمز فيلد" د طالبانو او ازبك مليشو دهغه خبرواترو د بهير په اړه چه له مخه يی طالبانو ځانونه تسليم کړل ويلی وو :" دتأسف ځای به وی چه په افغانستان کی دالقاعدی غړی، چڼيان او نور له خبرو اترو څخه په ګټی اخيستنی سره آزاد شی او په نتيجه کی په نورو هيوادونو کی دتروريستی اعمالو مرتکب وګرځی » .

دغه نامسئولانه خبره په هغو شرايطو کی وشوه چه د شمال ائتلاف جنګيالی مخکی دغځ اخيستنی لپاره ذهنی چمتوالی درلودل .

کله چه په کانتینرو کی د مړیو کاروان دشبرغان محبس ته ورسید په هر کانتینر کی د ۱۵۰ نه تر ۱۶۰ پوری جسدونه بار وو. په دی وخت کی امریکائیان د سیمی خلکوته وویل چه مخکی له دی نه چه مصنوعی سپوږمی دمړیو عکسونه واخلی باید له دغه ځای نه لری شی ( لوماند دیپلوماتیک ، سپتمبر، ۲۰۰۲ ) .
دیوه کانتینر د دریور په شهادت په لیلی دښته کی اټکل له ۳۰ څخه تر ۴۰ پوری امریکایی پوځیان له افغانانو سره یو ځای وو.
که امریکایان عملاً د اسیرانو په وژلو کی ګډون ولری (لکه چه شاهدان وایی ) یا د وژنی لامل ګرځیدلی یا که هغوی د صحنی په حضور سره دنورو د وژنکو اعمالو مخنیوی ندی کړی ، په دغه دری واړو حالاتو کی د جنګی جنایاتو تورن ګڼل کیږی .
په هر حال ! امریکائی مقامات په دغه پیښه کی له یوی خوأ د جګړی دیو اړخ په توګه اوله بلی خوآ د طالبانو د تسلیمیدو دټرون دشاهد او ضامن په حیث مسئولیت په غاړه لری .
که وژنه د ازبك ملیشو له خوا شوی وی ( څنګه چه سلګونو شاهدان وایی ) ، د دغه واقعیت په نظر کی نیولو سره چه نوموړی ملیشی د پیښی په وخت کی د امریکا نظامی متحد ګڼل کیده ، باید د نوموړی جنایت د یو اړخ په توګه د پلټنی په برخه کی مرسته وکړی ، سوالونو ته ځواب ووایی او د ترسره شوی جنایت عواقب ومنی .

## نتیجه :

د امریکا پخوانی حکومت د پیښي دتحقیق په اړه جدي نه وو : په ۲۰۰۲ کال د جون د ۳۰ نه دجولاي تر لومړني نیتی پوری د امریکایی قواوو له خوآ د ارزګان پر یوه کلي د واده پر یوي غونډي باندي بمباردمان وشو ، چي ۴۸ وژني او ۱۱۸ ټپیان یي درلود . امریکا نه یوازي دا چي د پیښي د پلټني په اړه یي جدي ګام پورته نه کړ ، بلکه د لوماند میاشتني خپروني په قول ( د اګست پر ۲۲، ۲۰۰۲ م کال ) پر ( م . م ) باندي فشار واچول چي خپل تحقیقي راپور چي په کي د امریکایي مقاماتو مسئوولیت په ګوته شوي و ، مدیا ته ونه سپاري .
په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلو کی په عزیز آباد او بالابلوک کی د امریکا د بمباریو له کبله په سلګونو بیګناه وګړی په شهادت ورسید . قضیه مسکوت پاتی شو .
د قراینو نه څرګندیږی چه کله چه د امریکا اوسنی حکومت په افغانستان کی د جنګی جنایت کارانو د محاکمی نه خبری کوی زیاتره پاملرنه افغانی لوری ته اړوی نه امریکایی مسئولینو ته . کوم چه موضوع په افغانستان کی د انتخاباتی کامپاین په بهیر کی مطرح کیږی موخه یی پرسیالو دلو باندی سیاسی فشار اچول ګڼلی شو .
خو سره له دی ، افغانان هیله لری چه د افغانی او بهرنی جنګی جنایت کارانو د محاکمی داعیه دسیاسی افزار په بڼه پاتی نشی :
د امریکا نوی حکومت چه د اصولیت په لور د حرکت دعوآ کوی د ( م ، م ) په مرسته د افغانستان د جنګی جنایت کارانو د محاکمی د پاره دری الترنتیفونه مخی ته لری :
- د افغانستان د ننه زمینه برابرول چه امکان یی په لند مهال کی نه لیدل کیږی .
- د تورنو کسانو دوسیی نړیوال سزآ دیوان ته وړاندی کول ( دیوان په هغه قضایاوو باندی پریکړه صادرولی شی چه د جولای د ۲۰۰۲ کال نه مخکی رامنځته شوی وو ) .
- د یو « اد هوک » محکمه جوړول .
څلور کال تیر شو تر څو چي ( م ، م ) په دي بریالي شو چي د بوسني د ۱۹۹۵ کال د جولاي د ډله ییزو وژنو په باب یو رسمي « راپور » وړاندي کړي .
خو افغانان څه ګناˇ لری چه د دریو لسیزو په تیریدو سره ( م ، م ) د جنګی جنایت کارانو په اړه د یوه ځانګړی راپور د تنظیم نه دده کوی . محاکمه خو د تخیل په آسمان کی چکر وهی . . .
په هر حال ! د امریکا د حکومت اوسنی دریز ته هرکلی وایو او د عملی اقداماتو هیله لرو. په تینګه غوښتنه کوو چه د لیلی دښتی پیښه د افغانستان د تولو جنګی جنایت کارانو د راتلونکی محاکمی په یوه بین المللی محور بدل شی .

## یادونه :

د مضمون عمومی چوکات په لیلی دښته کی د پیښی نه لږ وخت نه وروسته ( سپتامبر ۲۰۰۲ ) تنظیم شوی وو.
د نوی حالاتو په نظر کی نیولو سره وربانده له سره کتنه وشو .
« پای »